د سربو ګڼې سرچينې:

ايا ستاسو په کور يا شاوخوا کې سرب شته؟

تاسو سرب ليدلی نه شئ، خو کېدای شي چې دا د کور دننه او بهر په ګڼو ځايونو کې موجود وي. سرب خطرناک دی او زيان رسولای شي، په ځانګړي ډول ماشومانو ته. د سربو زهريت هغه وخت رامنځته کېږي کله چې سرب وخوړل شي يا د ساه له لارې بدن ته داخل شي. زياتره هغه ماشومان چې د سربو زهريت لري، نه ناروغ ښکاري او نه هم د ناروغۍ نښې څرګندوي.

سرب په لاندې مواردو کې موندل کېدای شي:



په زوړ، توټې شوې رنګ کې



په دوديز سينګار کې، لکه رانجه، سرمه يا سندور

د کور په دوړو کې

په درملنو کې لکه آزارکون (نارنجي يا سور پوډر)، ګريتا (ژېر رنګ پوډر) يا پي-لو-اَ (سور پوډر).

په لوڅه خاوره کې

په مرميو او د کب نيولو په سيسکو ګولیو کې

په ځينو خوړو، کېنډيو او مصالحو کې چې د امريکا له بهر څخه راوړل شوي وي

په ځيني عامه او د غټو جوړ شوي لوښو کې

که تاسو د سربو سره کار کوئ، نو په ويښتو، پوستکي، بوټانو او کالیو کې هم پاتې کېدای شي.

په هوايي ککړتيا کې چې د هوايي ډګرونو او صنعتي سيمو شاوخوا وي



په ځينو لوبتکو او ګاڼو کې

خپل ماشوم له دغو توکو لرې ساتئ او د هغوی د ډاکټر څخه د سربو د معلومولو لپاره د ازموينې په اړه وپوښتئ. يوازينی لاره چې پوه شئ چې آيا ستاسو ماشوم په سربو زهرجن شوی که نه، دا ده چې د ماشوم په وينه کې د سربو معلومولو لپاره ازموينه ترسره کړل شي. زياتره ماشومان د 1 او 2 کلنۍ په عمر کې ازمويل کېږي او ځينې ماشومان چې له 2 کلنۍ څخه زيات عمر لري هم اړتيا لري چې وازمويل شي.

CDPH
California Department of Public Health

go.cdph.ca.gov/LeadFreeKids

اګست 2024 • © 2024، د کاليفورنيا د عامې روغتيا اداره

د اداري د کارونې لپاره:
دلته د اړيکې معلومات وليکئ